UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملکي مرګ ژوبلې په تړاو د یوناما د ۲۰۱۷ کال د لومړیو دریو میاشتو ارقام**

**کابل، د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۲۷ مه –** په داسې حال کې چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي، یوناما له لوري د ۲۰۱۷ میلادي کال وروستی شمیرې چې نن خپرې شوې ښیې چې د ملکي وګړو د تلفاتو شمیره لا هم لوړه ده، یوناما په جګړې کې له ټولو ښکیلو غاړو غواړي چې په ښه توګه له زیانونو څخه د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي، تادامیچي یاماموتو وویل: " دا ملکیان دي، چې د ښځو او ماشومانو د مرګ ژوبلې شمیره یې هم مخ په زیاتیدو ده او دوی دي چې تر ډیره د جګړو ناخوالي ګالي. هغه شان چې ویل کیږي د جګړې د موسم له پیلیدو سره زه له ټولو غاړو غواړم چې ملکي وګړو ته د غیرضروري او نه منلو وړ زیانونو له اوښتو څخه د مخنیوي په موخه هر ممکنه اقدام ترسره کړي.

د ۲۰۱۷ کال په لومړیو دریو میاشتو کې یوناما ۲۱۸۱ ملکي تلفات مستند کړي (۷۱۵ وژل شوي او ۱۴۶۶ ټپیان) چې دا د ۲۰۱۶ کال د همدې مودې په پرتله ۴ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي. د ملکیانو وژنې دوه سلنه او د ملکي وګړو د ټپي کیدو په شمیره کې ۵ سلنه لږوالی راغلی دی.

د تیر ۲۰۱۶ کال په څیر ځمکنی نښتې د ملکي وګړو د تلفاتو تر ټولو ستر لامل پاتې شوی چې ورپسې له وړاندې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او ځانمرګي بریدونه او همغږې ځانمرګي بریدونه د ملکي تلفاتو لاملونه په ګوته شوي.

د یوناما له لوري د ثبت شوو ملکي تلفاتو په کچه کې کموالی په ټوله کې ۱۹ سلنه کموالی یې د حکومت پلوه ځواکونو او حکومت مخالف عناصرو تر منځ د ځمکنیو نښتو له امله په رامنځ ته شوو تلفاتو کې ده. یوناما د دغه شان کموالي او ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره د هڅو هرکلی کوي، خو د یادیدو ده چې ښایي د شمیرو د دې راټیټیدو او په ۲۰۱۶ میلادي کال کې په ګنو سیمو کې د جګړو له امله په جدي توګه د اغیزمنیدو له اړخه په افغانستان کې د کورنیو بې ځایه شوو ثبت شوې کچه سره تړلې وي.

د ملکي تلفاتو د کچې راټیټیدو سره سره، ځمکنی نښتې د ملکي تلفاتو تر ټولو ستر لامل په ګوته کیږي چې له امله ۳۵ سلنه تلفات رامنځ ته شوي.

په کابل ښار کې د ځانمرګو او همغږو ځانمرګو بریدونو له امله، له جغرافیایي پلوه کابل ولایت د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه شمیره لري چې ورپسې هلمند، قندهار، ننګرهار او ارزګان ولایتونه پسې راځي.

حکومت مخالفه ځواکونه د ملکي تلفاتو د ۶۲ سلنې لامل شوی – ۱۳۵۳ ملکي تلفات ( ۴۴۷ وژل شوي او ۹۰۶ ټپیان) چې دا د تیر ۲۰۱۶ میلادي کال د همدې مودې په پرتله پنځه سلنه لوړوالی په ګوته کوي.

حکومت مخالفه عناصرو په دوامداره توګه په قصدي توګه د ملکیانو هدف ګرځولو ته دوام ورکړی او په هغو سیمو کې چې ملکیان اوسیږي له هدف پرته تکتیکونو څخه کار اخیستی، چې داد نړیوالو بشري قوانینو ته د دوی له مکلفیت څخه ښکاره سرغړونه ده. یوناما د حکومت پر ملکي کارکوونکو، قومي مشرانو، د شعیه مسلمانو پر جوماتونو، د بشري مرستو کارکوونکو، د نادولتي موسسو پر کارکوونکو او هغو ملکیانو چې د حکومت ملاتړو ګمان پرې کیږي، بریدونه هم مستند کړي دي.

ښاغلي یاماموتو زیاته کړې: " د وسله والو شخړو پرمهال په قصدي توګه د ملکیانو وژل او ټپي کول جنګي جرم دی. د حکومت مخالف عناصر باید دا زړه بوږنوونکی عمل ودروي او هر څوک باید د نړیوالو قوانینو له مخې د ملکي تعریف په پام کې ونیسي او درناوی یې وکړي.

له وړاندې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي ( ټول هغه چې د ځانمرګي بڼه نه لري) د ملکي تلفاتو دوهم ستر عامل جوړوي چې له امله یې ۴۰۹ ملکي تلفات ( ۱۲۶ وژل شوي او ۲۳۸ ټپیان) رامنځ ته شوي چې دا د تیر ۲۰۱۶ میلادي کال په پرتله ۱۹ سلنه کموالی په ګوته کوي.

د اندیښنې وړ دا ده چې یوناما د له وړاندې تعبیه شوو فشاري چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله د ملکي تلفاتو په کچه کې ۱۲ سلنه زیاتوالی ثبت کړی – ۲۱۸ ملکي تلفات چې په دې کې ۸۸ وژل شوي او ۱۳۲ ټپیان راځي.

تعبیه شوي فشاري چاودیدونکي توکي د خپل جوړښت له مخې بې توپیره وژني رامنځ ته کوي، چې غیر قانوني دي او له دې امله چې یو ځلي کیښودل شو، بیا کاروونکی نشي کولای چې په مستقیم ډول تاکل شوې موخه په نښه کړي. یوناما د دولت ضد عناصرو څخه په کلکه غوښتنه کوي، چې ژر تر ژره د دې تکتیک کارولو ته د پای ټکی کیږدي.

ځانمرګي او پیچلي ډله ییز بریدونه په دوامداره توګه ملکي وګړو ته تر ټولو ډیر زیان رسوي. یوناما له دې تکتیک څخه د ملکي وګړو د رامنځ ته شوې مرګ ژوبلې ۵ سلنه زیاتوالی ثبت کړی – ۳۷۴ ملکي مرګ ژوبله ( ۱۰۸ وژل شوي او ۲۶۶ ټپیان) – چې د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۱۷ سلنه جوړوي.

یوناما د ملکي وګړو ۲۱ سلنه مرګ ژوبله حکومت پلو ځواکونو ته راجع کړې – ۴۵۱ ملکي مرګ ژوبله ( ۱۶۵ وژل شوي او ۲۸۶ ټپیان) – چې د ۲۰۱۶ کال د همدې مودې په پرتله ۲ سلنه کموالی ښیي. په داسې حال کې چې ډیری مرګ ژوبله د حکومت پلوه ځواکونو د دولت ضد عناصرو سره د ځمکنۍ جګړې پر مهال په غیر مستقیم ډول رامنځ ته شوې، یوناما د هوایي عملیاتو له درکه په ملکي مرګ ژوبله کې د پام وړ زیاتوالی ثبت کړی.

یوناما د هوایي عملیاتو په لړکې ۱۴۸ ملکي تلفات ثبت کړي ( ۷۲ وژل شوي او ۷۶ ټپیان) چې د ۲۰۱۶ کال د همدې مودې د ۲۹ ملکي مرګ ژوبلې ( ۸ وژل شوي او ۲۱ ټپیان) په پرتله خواشینوونکی زیاتوالی په ګوته کوي. د مارچ د میاشتې په دریمه نیټه د فراه ولایت په بالا بلوک ولسوالی کې پر طالبانو دافغان هوایي ځواک د چورلکې د برید له امله ۷ ماشومان ووژل شول او ۲۴ ملکیان ټپیان شول.

په داسې حال کې، چې ۹ سلنه مرګ ژوبله د دولتي او مخالفو وسله والوتر منځ د ځمکنۍ جګړو له امله رامنځ ته شوې ، چې په مشخص ډول یوې خاصې خوا ته نشي راجع کیدی. پاتې ډیری برخه مرګ ژوبله د هغو نا چاوده توکو(ماینونو) له کبله رامنځ ته شوې چې مسوولیت یې چاته نه دی راجع شوی . د ناچاوده توکو له کبله ۲۰۳ ملکي مرګ ژوبله یو سلنه زیاته شوې، ( ۵۰ وژل شوي او ۱۵۳ ټپیان) چې ۸۱ سلنه یې ماشومان دي.

یوناما د ښځو او ماشومانو د مرګ ژوبلې د ډیروالي په تیره بیا دمړینې د زیاتې کچې په اړه ژوره اندیښنه لري. یوناما د ښځو او ماشومانو په مرګ ژوبله کې ۲۴ سلنه ډیروالی راجستر کړی، چې ۲۷۳ ته رسیږي ( ۸۸ وژل شوي او ۱۸۵ ټپیان) او ډیری ښځو په هوایي بریدونو او همغږو ځانمرګو بریدونو کې خپل ژوند له لاسه ورکړی. د جګړو له امله د ښځو د مړینې کچه ۵۴ سلنه لوړه شوې په داسې حال کې چې د دوی د ټپي کیدو کچه ۱۳ سلنه لوړه شوې.

همدارنګه یوناما دکال په لومړی ربع کې د ماشومانو ۷۳۵ مرګ ژوبله ثبت کړې ( ۲۱۰ وژل شوي او ۲۲۵ ټپیان) چې د ۲۰۱۶ کال د همدې مودې په پرتله درې سله ډیروالی ښیي. د ماشومانو د وژل کیدو شمیره ۱۷ سلنه لوړه شوې او د دوی د ټپي کیدو شمیره یو سلنه ټیټه شوې. د کال دلومړی ربعې د ټولې ملکي مرګ ژوبلې ۳۴ سلنه ماشومان جوړوي.

د هوایي بریدونو له امله د ماشومانو د مرګ ژوبلې ډیروالی او همدارنګه د ناچاوده توکو له امله د ډیر شمیر ماشومانو مرګ ژوبله په مجموع کې د ماشومانو د مرګ ژوبلې د ډیروالي لامل شوي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې، ډانیل بل وویل: " د ماشومانو د مرګ ژوبلې ۱۷ سلنه ډیروالی د ملکي وګړو د خوندیتوب په برخه کې د جګړې د ښکیلو اړخونو د لازمو اقداماتو په برخه کې ناکامي په ګوته کوي، چې له جګړې وروسته د سیمو پاکول او په نښه کول یکې شامل دي. " هغې زیاته کړه: " دا شمیرې د ۷۳۵ نجونو او هلکانو او تنکیو ماشومانو ژوند بیانوي، ۷۳۵ د مرګ کیسې، معلولیت او فزیکي درد او رنځ، رواني زیانونه او خفګان. د جګړې ښکیل اړخونه باید اوس په ۲۰۱۷ کال کې د ماشومانو د خوندیتوب لپاره ګامونه پورته کړي. "

د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړی نیټې څخه د مارچ تر ۳۱مې، یوناما د وسله والي جګړې اړوند ۱۷ پیښې ثبت کړي، چې روغتیایي بنسټونه او یا روغتیایي کارکوونکي یې په نښه کړي چې داعش د سردار محمد داود خان پر روغتون د برید پره ومنله، چیرته چې ۲۶ ملکي وګړي مړه او ۳۰ تنه نور ټپیان او یو شمیر پوځي روغتیایي کارکوونکي او عسکر ټپیان شول.

یوناما یوځل بیا د افغانستان له دولت څخه غواړي، تر څو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنیوي او کموالي ملي پالیسي تایید، او د کاري پلان بشپړول، چې د سنجش وړ موخې یکې شتون لري، خپل لومړیتوبونه وګرځوي.

* * *

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN


د لازیاتو معلوماتو لپاره، د یوناما په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو د خوندیتوب کلنیو او شپږ میاشتینیو رپوټونو ته مراجعه وکړئ، چې د ملکي وګړو او سیمو د خوندیتوب لپاره یکي سپارښتني شتون لري:
http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports راتلونکی رپوټ، چې د جولای په میاشت کې خپریږي، د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د جون تر دیرشمې شمیرې له څانه سره لري.

* * *

*په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چارې وړاندې کوي. "د ښه نیت چارې" هغه ډیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي ډول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت دارۍ د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو څارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږۍ پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.*


**چارتونه او ګرافونه:**

**د ۲۰۰۹ له جنوری د ۲۰۱۷ ترمارچ پوري ملکي تلفات (مرګ - ژوبله)**



UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ او مارچ ترمنځ د جګړې د ټولو غاړو لخوا ملکي تلفات**




**د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ او مارچ ترمنځ د پیښو او تاکتیک له اړخه**

